په افغانستان

کې د کاناډا ماموريت

www.afghanistan.gc.ca






# ماشومان او ځوانان

## د افغانستان د راتلونکې لپاره پانګونه



د افغانستان حکومت د کاناډا په شان د بهرنيو هېوادونو په مرسته، د ښوونې او روزنې يو ملي پروګرام عملي کوي.

© دولت کاناډا

ماشومان او ځوانان د افغانستان تر ټولو ارزښتناکه سرچينه ده. کاناډا به د پوهنې او روغتيا په برخو کې خپلې پانګونې ته دوام ورکړي، دا کار به تر دې مهاله پورې په نوموړو برخو کې زمونږ د پخوانيو مرستو په دوام وي.

افغانستان په نړۍ کې د نفوس له لحاظه يوه ځوانه ټولنه ده. په منځنۍ توګه هره ښځه د شپږو نه زيات ماشومان زيږوي، د ماشومانو او ځوانانو نفوس مخ په زياتېدو دی. سربېره په دې، د افغانستان ځوان نسل ښوونې او روزنې ته په لاس رسۍ کې د خنډونو سره او د روغتيا په برخه کې د ګواښونو سره مخامخ دي. د افغانستان راتلونکې سوکالي او ټيکاو به په پوهې سره د دې هېواد د ځوان نسل سمبالولو او د هېواد د امنيت او ودې د لپاره د سرچينو برابرولو او ماشومانو ته د ښو روغتيايي خدمتونو په برابرولو پورې تړلي وي.

### کاناډا څه کوي

کاناډا د افغانستان د رسمي ښوونې او روزنې سيستم سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي تر څو اوږدمهاله پايلې ترلاسه شي، او په عين حال کې په سيمو کې ميشت د ښوونې او روزنې هڅو ملاتړ کوي دا ډول هڅې په لېرې پرتو سيمو کې سملاسي اړتياوې پوره کوي. زمونږ په هلوځلو کې به ښوونې او روزنې ته د انجونو او ځوانو ښځو په ښه لاس رسي باندې ټينګار وشي او د نويو ښوونکو په تېره بيا د ښځينه ښوونکو روزنې ته به پاملرنه وشي.

د کاناډا هېواد د خپلې هغې ژمنې د پوره کولو لپاره چې د ۲۰۱۰ لمريز کال د جي اته (G8) هېوادونو په غونډه کې د ميندو، نوو زيږېدلو او د ۵ کلنۍ څخه کم عمره ماشومانو د روغتيا لپاره د مسکوکا پروګرام په ملاتړ يې کړې وه، په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو پياوړي کولو ته دوام ورکوي تر څو د ګوزڼ د واکسين پروګرام له لارې د مرضونو مخنيوی او درملنه وکړي او نور پروګرامونه د روغتيايي څارنې او ارزونې په برخه کې عملي کړي همداشان د ميندو، نويو زيږېدلو او تر ۵ کلنۍ پورې ماشومانو د تغذيې حالت به ښه کړي.